# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د وږي ۱۲مه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر دویمه | ۵۸۹یمه ګڼه

2 017550 139621


## کتاب

۴ مخ

### د مطالعې فن




د ښوونځیو او پوهنتونونو د اجباري مطالعې په اړه سلګونه کتابونه لیکل شوي؛ خو له بده مرغه زیاتره دغه کتابونه د لیکوالو له شخصي تمایلاتو او باورونو سرچینه اخلي او لارښوونې یې په علمي اصولو او تګلارو نه دي ارزیابي شوې، نو امکان لري چې ستاسو د مطالعې اوسنۍ طریقه ستاسو له موقعیت سره مناسبه نه وي.

### له غزني تر کندهاره د وارداتي برېښنا د پایو چارې ۹۵ او د مزو یې ۱۵ سلنه بشپړې شوې دي



له غزني تر کندهاره د ۲۲۰ کیلو واټه وارداتي برېښنا د پایو درولو چارې ۹۵ او د هغو د مزو غځولو چارې ۱۵ سلنه بشپړې شوې دي.

د کندهار د برېښنا رییس امان الله ایوب فاروقي ویلي، چې له غزني تر کندهاره د ۲۲۰ کیلو واټو برېښنا د پایو درولو او مزو غځولو چارې د کرونا بحران او کرنتین له امله له ځنډ سره مخ شوې وې چې اوس بېرته پیل شوې دي.

دی وایي، تر دې مهاله د دې پروژې اړوند د پایو درولو کار ۹۵ سلنه او د مزو غځولو هغه ۱۵ سلنه مخ ته تللی دی.

د ده په خبره، له ژمني سره سم باید د دې پروژې چارې د روان کال په چنګاښ میاشت کې بشپړې شوې وای، خو د کرونا او کرنتین له امله یې چارې له ځنډ سره مخ شوې.

نوموړي دغه راز زیاته کړې چې د دې پروژې کار به د روان کال تر وروستیو بشپړ شي.

# سولې ته په لوی لاس د خنډونو جوړول؛

## د ملي مصالحې عالي شورا د تشکیل پر سر د ارګ او سپېدار ترمنځ ناندرۍ راولاړې شوې



۳

### بین الافغاني مذاکرات؛ د پروسې ځنډول روان بحران نور هم اوږدوي

۲ مخ

### افغان سوله؛ ګاونډیان او سیمه څه غواړي؟

۲ مخ

### افغانستان کې د سیلابونو مخنیوی څنګه کېدای شي؟

۳ مخ

## د مصالحې شورا: راتلونکې اونۍ به له طالبانو سره د سولې مخامخ خبرې پیل شي

د ملي مصالحې عالي شورا یو ځل بیا ویلي چې ډېر ژر به له طالبانو سره د سولې مخامخ خبرې پیل شي.

دغه شورا وایي، د ټولو طالب بندیانو له ازادۍ یوه اونۍ وروسته به له طالبانو سره د سولې مخامخ خبرې پیل شي.

د دې شورا مرستیال حاجي دین محمد ویلي، تمه ده چې مذاکرات راتلونکې اونۍ پیل شي.

دا په داسې حال کې ده چې له دې وړاندې د یادې شورا مشر عبدالله عبدالله هم د تېرې اونۍ د پنجشنبې په ورځ ویلي وو چې راتلونکې اونۍ به د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ مذاکرات شروع شي.

خو دین محمد وایي، طالبانو دوی ته ویلي چې د خپلو ټولو زندانیانو له ازادۍ یوه اونۍ وروسته به له دوی سره د خبرو مېز ته کېني.

نوموړي دغه راز زیاته کړې: «دا چې د بندیانو د ازادۍ لړۍ پوره شي، یوې اونۍ ته اړتیا لرو، فکر نه‌کوم چې دا اونۍ دې خبرې پیل شي، بله اونۍ به شروع کېږي، ځکه یوه اونۍ وخت غواړي. زموږ پلاوی چمتو دی، که د طالبانو له‌خوا غږ وشي، زموږ پلاوی تیار دی.»

دا په داسې حال کې ده چې طالبانو له افغان حکومت سره د مخامخ خبرو د پیل لپاره اساسي شرط د خپلو ټولو زندانیانو خلاصون یاد کړی دی.

په ورته وخت کې افغان حکومت هم له وړم ماښام راهیسې د هغو ۴۰۰ زندانیانو د ازادېدو لړۍ بیا پیل کړې چې وړاندې یې په اړه جنجال و.

## برېتانیا: افغاني اړخونه د روغې جوړې له لارې د روان کړکېچ د پای ته رسولو لپاره تاریخي فرصت لري



۵ مخ

## اوچا: افغانستان تا هنوز با تهدید همه‌گیری ویروس کرونا روبه‌رو است



ادارهٔ هماهنگی کمکی‌های بشری سازمان ملل‌متحد (اوچا) می‌گوید که افغانستان تا هنوز با تهدید همه‌گیری ویروس کرونا روبه‌رو است.

اوچا گفته است، مناطقی که با پاکستان و ایران هم‌مرز استند، بیشتر با آسیب‌پذیری روبه‌رو اند، زیرا مردم در آن‌جا ها بدون کنترول رفت‌وآمد می کنند.

به باور این اداره، کارمندان صحی در مناطق مرزی حضور دارند، اما سهولت کافی برای آزمایش‌ها و وسایل قابل نیاز برای مصونیت مردم وجود ندارد.

این در حالیست که آمار رسمی وزارت صحت عامهٔ افغانستان نشان می‌دهد که بیش از ۳۸ هزار تن در این کشور به ویروس کرونا مبتلا شده‌اند و از میان آن‌ها حدود ۲۹ هزار تن دوباره شفا یافته اند.

ادارهٔ هماهنگی کمک‌های بشری سازمان ملل‌متحد در حالی از گسترش دوباره ویروس کرونا در مناطق مرزی نگرانی دارد که مقام‌های وزارت صحت عامهٔ افغانستان می گویند، در آمار مبتلایان کاهش قابل توجه رونما شده‌است.

همچنان چندی پیش مقامات وزارت صحت عامه گفته بودند که یافته های جدید این وزارت نشان می دهد که ۱۰ میلیون نفر در افغانستان به ویروس کرونا مصاب شده اند.

انها، از احتمال شیوع موج دوم این ویروس در افغانستان هشدار داده و بار دیگر از شهروندان خواسته بودند که به توصیه های صحی این وزارت توجه جدی بکنند.




## دریځ

### بین الافغاني مذاکرات؛ د پروسې ځنډول روان بحران نور هم اوږدوي

تازه د ټرمپ د ملي امنیت سلاکار له ولسمشر غني سره په تیلیفوني خبرو کې د بین الافغاني خبرو د ژر پیلېدو غوښتنه کړې ده. رابرټ اوبراین ولسمشر غني ته ویلي چې ژر تر ژره دې د بین الافغاني خبرو د پیل په لار کې شته خنډونه له منځه یوسي او بین الافغاني خبرې دې پیل کړي. د ده په خبره، امریکا د افغان حکومت ترځنګ ولاړه ده او ښه به وي چې د سولې لپاره نور خنډونه جوړ نه شي. بلخوا تازه داسې ګنګوسې او راپورونه خپاره شوي چې افغان حکومت د طالبانو د ۳۲۰ زندانیانو له ډلې نږدې سل کسه یې خوشي کړي دي. همدا راز ویل کېږي چې طالبانو هم د افغان حکومت ځینې کمانډویان خوشي کړي، خو دا راپورونه تایید شوي نه دي.

اوس په رسنیو او د سیاسي بحثونو تر ټولو ستره اندېښنه د افغان حکومت له لوري د سولې پروسې په برخه کې د خنډونو جوړول دي. څو ورځې وړاندې استاد کریم خلیلي په یوه وینا کې وویل چې ولسمشر غني له طالبانو سره مخکې هم خبرو ته تیاری نه درلود، په دې مانا چې په دې مسئله کې دلچسپي نه لري، خو اوس هم په یو ډول نه په یو ډول د بین الافغاني خبرو لپاره خنډونه جوړېږي. دا واضح خبره ده چې افغان حکومت باید د سولې لپاره د نړیوالو په تېره د امریکا خبرې ومني، لکه تل یې چې منلې دي، سرې کرښې یې ورته ماتې کړې دي او د دوی غوښتنې یې پر ځای کړې. اوس به هم د امریکا خبره مني، زندانیان به خوشي کېږي، خو پوښتنه دا ده، چې ولې د خبرې په منلو کې ځنډ راځي؟ ولې په یو ډول نه په یو ډول د جګړې د دوام لپاره زمینه برابرېږي؟ ولې هغه خبره چې نن منل کېږي او پرمختګ رامنځ ته کوي څو میاشتې او څو اونۍ وروسته منل کېږي؟ دا واضح خبره ده چې په حکومت کې ځینې کړۍ د سولې مخالفې دي. همدا راز د طالبانو په لوري کې هم شاید داسې تحرکات وي چې سوله له ځنډ سره مخ کوي.

په حکومت تازه بله ستونزه هم رامنځ ته شوې او هغه د ملي مصالحې عالي شورا پر سر ده چې دا مسئله هم کولی شي د سولې پروسه ځنډنۍ کړي او دا په هڅې صورت د افغانانو او افغانستان په ګټه نه ده. که افغان حکومت په رښتیا سوله غواړي، نو له ورته اقداماتو دې ډډه وکړي، ځنډونه دې نه راولي او پر وخت دې اقدام وکړي.

سیاسي وضعیت د دې تقاضا کوي چې افغان حکومت په رښتیني مانا سولې ته د یوه ماموریت په سترګه وګوري، هغه د افرادو او ځینو کړیو د غوښتنو قرباني نه کړي، په لوی لاس ځنډونه او خنډونه رامنځ ته نه کړي، ځکه جګړه چې یوه ورځ هم اوږدېږي، یو کور نړوي، یوه کورنۍ د غم پر ټغر کېنوي، انسانان وژني او د ناورین ددوام سبب ګرځي.

اوس دواړو لورو ته په کار ده چې هم فرصتونه درک کړي او هم د هېواد حساس وضعیت ته متوجه وي، ځکه نور هېڅ افغان د جګړې ددوام غوښتونکی نه دی او هېڅ افغان نه غواړي چې په دې برخه کې ناغېړي وشي.

# افغان سوله؛
## ګاونډیان او سیمه څه غواړي؟

جاوید کوټوال

ښه به داسې وای چې له بین الافغاني مذاکراتو وړاندې د امریکا او طالبانو تر منځ هر څه نهایي شوي وای او د سولې موافقتنامه لاسلیک شوې نه وای- د افغانانو تر منځ چې هر څه حل و فصل شوي وای، بیا به یې له امریکایي لوري سره موافقه امضاء کړې وای. اوس د جګړې اصلي لوری، کوم چې اتلس کاله د هغوی په خاطر د اور لمبې بلې وې، ارام ناست دی او افغانان د خپلمنځي جنګ قرباني دي.

پورته او ځینو نورو ټکو ته یا پام ونشو او یا هم په قصدي ډول د اوسني حالت لپاره د نقشو ترسیم ته په کار واچول شول.

له تېرو ولسمشریزو ټاکنو وروسته لویه هیله دا وه، چې په افغانستان کې د ملي وحدت نوې او ناچله د حکومتدارۍ طرحه ختمه شي، سیاسي دوې ډلې له منځه لاړې شي او د حکومتولۍ لپاره یوه واحده سیاسي کتله رامنځ ته شي، خو بدبختانه چې هغسې ونشول. د افغان سولې لپاره په لویه کې دوه وېشلي دریځونه پاتې شول او د اندېښنې وړ دي.

همدا اوس ټوله هڅه دا ده، چې د افغان سولې لپاره هر امتیاز ولسمشر او یا هم د مصالحې عالي شورا مشر ته ورسیږي.

افغانستان اوسمهال د سیاسیونو له بې ساري وېشلو دریځونو سره مخ دی. دغه راز هېواد د دوو قدرتونو، د افغانستان حکومت او د طالبانو امارت تر منځ را ګیر دی. دواړه یې په عملي او رښتیني ډول د افغانانو لپاره د خدمت کولو جوګه نه دي. یو یې امکانات لري، ظرفیت او کیفیت نه لري او بل ته یوازې د جګړې ډګر ور پاتې دی.

د افغانانو تر منځ د اجماع پر نشتوالي سربېره، ګاونډي او د سیمې هېوادونه هم د افغان سولې په اړه بېلابېل او د خپلو ګټو پر بناء اندونه او دریځونه لري.

ګاونډیانو او د سیمې ځینو هېوادونو، د امریکا او طالبانو تر منځ د مخامخ خبرو په پیلېدو، په ښکاره ډول له طالبانو سره اړیکې پیل کړل. طالبانو هم هلته سفرونه وکړل او خپل نظرونه او لیدلوري یې خلکو ته بیان کړل.

اوس له طالبانو سره د تماس موضوع له هېچا پټه نه ده. پاکستان، ایران، روسیې او چین هېوادونو په ښکاره ویلي، چې موږ له طالبانو سره اړیکې لرو، خو دا هر څه د افغانستان حکومت په غیاب کې دي.

بدبختانه افغانستان په داسې یوه حالت کې قرار لري، چې حکومت یې له ګاونډیانو او سیمې سره د اړیکو په توازن کې پاتې راغلی او دوی ترې نا خوښه دي. په تېرو شپږو کلونو کې چې دا اړیکې زیانمنې شوې، له ۲۰۰۲ کال را وروسته بې ساري دي.

د افغانستان په مسایلو کې د یادو هېوادونو اغېز له پامه نشي غورځېدای او موږ غواړو په اوسني وضعیت کې په اجمالي ډول د دوی په نظر او دریځ یوه شو:

**۱-پاکستان**

د افغانانو عام ذهنیت دا دی چې په افغانستان کې د هرې جګړې او ورانکارۍ تر شا د پاکستان لاس دی. د بې باورۍ په داسې یوه فضا کې افغانستان په یوه نوي بهیر ورګډېږي.

د پاکستان لپاره د افغانستان سوله او بهیر دواړه مهم دي. پاکستان تل د کابل او ډهلي له نږدې اړیکو نه په اندېښنه کې دی او ظاهراً داسې معلومیږي، چې د سولې پروسې د کامیابۍ لپاره د پاکستان غوښتنه دا ده، چې د هند رول کمزورۍ شي.

دا په داسې حال کې ده، چې د افغانستان حکومت هند خپل پخواني او دوست هېواد بولي. که افغانستان د پاکستان غوښتنې د سولې په بهیر کې ومني، نو پخواني او اصلي حمایت کوونکی به له لاسه ورکړي. پکار ده چې د پاکستان او هند جیوپولیټیکې ننګونې مدیریت شي. د افغانستان حکومت باید د هند د روابطو په برخه کې افراط ونه کړي او د پاکستان او هند په اړیکو کې توازن په پام کې ولري.

ښایي پاکستان په کشمیر کې د خپلو ګټو د خوندیتوب په منظور، له افغان سولې سره ملاتړ مشروط کړي او امریکا دېته اړه کړي، چې خپل ځینې شرایط پرې ومني.

**۲-ایران**

د پخواني شوروي اتحاد پر وړاندې له افغان جهاد سره د پاکستان او ایران ملاتړ د انکار او هېربدو وړ نه دی. دغه راز د مهاجرینو ورتګ او دوی ته ځای ورکول، هم هغه څه دي، چې د افغانانو په یاد دي.

یاد دواړه هېوادونه له افغانستان سره تاریخي مسائل او همدا راز سرحدي او د اوبو په اړه ستونزې او اختلاف لري، نو په افغانستان کې هر ډول تغییرات د ایران او پاکستان په سرنوشت اثر لري.

په همدې خاطر نوموړي هېوادونه د افغانستان په اړه د پخوا په څېر په افغان سوله کې هم فعال دي. د دوی څرګندونې ان زموږ په هېواد کې د مداخلې تر کچې دي. د ایران د بهرنیو چارو وزیر ویلي، چې د افغانستان راتلونکې، له طالبانو پرته امکان نه لري جوړه شي.

په ایراني رسنیو کې داسې هم راغلي، چې شرقي ګاونډۍ د ډیموکراسۍ په خښولو د کورنۍ جګړې خوا ته درومي. دوی وایي چې په افغانستان کې د امریکا له نوولس کلن حضور وروسته، هغه حکومت چې دوی ترې اخیستی و، اوس یې بېرته ورکوي. دا د دوی لاسته راوړنه ده!

امریکا او ایران دواړه د افغان سولې په برخه کې یو پر بل شکمن دي. د روان کال د جولای په ۲۵مه، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت خاص استازي زلمي خلیلزاد، د سولې لپاره د امریکا د موسسې یوې ناستې ته وویل، چې د افغانستان د سولې اړوند تر ټولو لویه ننګونه دا ده، چې ایران کافي ملاتړ نه کوي.

ده زیاته کړه چې ایران د تهران او واشنګټن تر منځ د شته ستونزو له امله، د بین الافغاني مذاکراتو او په افغانستان کې د ثبات هرکلی نه دی کړی.

خلیلزاد د ایران د بهرنیو چارو وزارت سیاسي معیین، عباس عراقچي وروستیو غبرګونونو ته په اشارې وویل، چې ایران د سولې له بهیر او دغه راز په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو له حضوره ناخوښ دی.

عراقچي کابل ته په خپل وروستي سفر د جولای په ۱۹مه، له یوې خصوصي رسنۍ سره په مرکه کې وویل، چې تهران د افغانستان د سولې په بهیر کې د امریکا پر نیت شک لري.

ده ویلي وو، هغه څه چې امریکا له طالبانو سره په لاره اچولي، له دې ډلې سره معامله ده. بېلا بېل عوامل وجود لري، چې ایران یې د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې په اړه نا امیده کړی دی.

عراقچي وویل: «موږ باور لرو چې پر امریکا باید باور ونشي او په سیمه کې د امریکا حضور خطرناک دی او په سیمه کې د ډېرو اختلافونو لامل کیږي.»

ده وویل، امریکا طالبانو ته مشروعیت ورکړ او د افغانستان دولت په غیاب کې رسماً له طالبانو سره مذاکره او د دغه هېواد د راتلونکې په اړه یې معامله وکړه. دا ټول په داسې حال کې وشول چې امریکا د افغانستان دولت ملاتړی او متحد بولي.

**۳-چین**

چین تل ویلي، هېواد یې د افغان سولې او پرمختګ ملاتړ کوي. دغه راز ټینګار کوي چې د افغانستان په چارو کې لاسوهنه نه کوي او د ځمکنۍ بشپړتیا درناوی یې لري. په تاریخي لحاظ او په وروستیو څو لسیزو کې هم یاد هېواد د افغانستان په چارو کې د مداخلې کومه مخینه نه لري.

زموږ لپاره تر ټولو ښه خبره دا ده، چې چین خپل ملګری هېواد پاکستان اړ او پوه کړي، چې یو آرام او له جګړې پرته افغانستان چې له سیاسي او اقتصادي اړخه د سیمې له ټولو قدرتونو سره اړیکې ولري، د پاکستان په ګټه دی.

همدا راز دا به د چین تر ټولو ښه هدف وي، چې با ثباته افغانستان د چیني مالونو لپاره یو مهم ترانسپورټي او سوداګریز مرکز شي، اګر چې اوس د اقتصادي انګېزو تر څنګ امنیتي اندېښنې هم وجود لري.

د بین الافغاني مذاکراتو په اړه د روان میلادي کال د اګست په ۲۱مه، د چین د بهرنیو چارو وزیر وانګ یي له خپل پاکستاني سیال محمود قریشي سره له کتنې وروسته خبریالانو ته د خپل هېواد پنځه فقره ییز پېشنهاد وړاندې کړ. په دغه پېشنهاد کې راغلي:

لومړی: بین الافغاني مذاکرات دې د افغانستان مسئلې پر سیاسي حل ټینګار وکړي. د افغانستان مسئلې د حل یوازینۍ لار ډیالوګ او خبرې اترې دي. چین هیله لري چې د افغانستان بېلابېلې سیاسي ډلې پر دغو مذاکراتو ټینګ باور ولري، خپل صبر دې وساتي، خپل صمیمیت دې وښیي او د بریالیتوب ټینګ هوډ دې ولري.

دویم: بین الافغاني مذاکرات دې د افغانانو تر لارښوونې لاندې تر سره شي. د افغانستان راتلونکی برخلیک د افغانانو لخوا پرېکړه کېږي، نو د افغانانو لخوا د لارښوونې اصول دې په جدي توګه وساتل شي. هېڅوک دې په افغانستان کې د جیاپولیټیکس سیالۍ نه کوي او د افغانستان په مسئله کې دې خپلې ګټې نه لټوي.

درېیم: په بین الافغاني مذاکراتو کې دې پر ټولشمولیت باندې ټینګار وشي. مختلفې خواوې باید په ګډو هڅو سره داسې یو سیاسي چوکاټ جوړ کړي، چې د هېواد بېلابېل سیاسي ګوندونه، قومونه او مذهبي ډلې پکې په مساوي توګه برخه واخلي او له دې لارې دې واکونه شریک کړي.

څلورم: پر جګړې سربېره، افغانستان د بېوزلۍ، کډوالو او نشه یي توکو په شمول له ځینو ستونزو سره مخ دی، چې د مذاکراتو مختلفې خواوې له دغو ستونزو سره ګډه مقابله وکړي. چین هیله لري چې ښکېلې خواوې په خپل هېواد کې د سولې او پرمختګ د تر سره کېدو لپاره ګډ کوښښونه وکړي.

پنځم: نړیواله ټولنه دې د افغانستان مسئلې په اړه خپله وظیفه پر غاړه واخلي. نړیواله ټولنه او د سیمې هېوادونه باید په عدالت او برابرۍ سره د سولې بهیر پرمخ بوځي او د افغانستان سولې بهیر دې نه خرابوي. بهرني ځواکونه باید په مسوولانه او منظمه توګه له دغه هېواد څخه ووځي، د ترهګرۍ څپې د بیا راپورته کېدو مخنیوی دې وکړي او د افغان حالاتو ارام او روان انتقال دې تأمین کړي.

د چین د بهرنیو چارو وزیر په پورته وړاندیزونو کې دویم، درېیم او پنځم د تأمل وړ دي. په یادو پېشنهادونو کې معلومیږي، چې چین په افغانستان کې د نورو هېوادونو د جیوپولیټکس مخالف دی او افغانان هڅوي، چې پخپله د افغانستان د راتلونکي برخلیک لپاره تصمیم ونیسي.

دغه راز ښکاري چې په بین الافغاني مذاکراتو کې پېشنهاد شوی پلاوی ټولشموله نه بولي او وړاندیز کوي چې د هېواد بېلابېل سیاسي ګوندونه، قومونه او مذهبي ډلې پکې په مساوي توګه برخه واخلي.

همدارنګه جوتیږي چې چین دوې اندېښنې لري، لومړۍ ښایي نړیواله ټولنه او د سیمې هېوادونه د افغان سولې بهیر خراب کړي او دویم ممکن د ترهګرۍ څپې بیا راپورته شي او چین نور نه غواړي بهرني ځواکونه په افغانستان کې پاتې شي.

**۴-هند**

د افغانستان په سوله کې د هند رول او مسئله ډېره د بحث او فکر وړ ده. د طالبانو د حکومت پر مهال د دوی د مخالفینو ملاتړ، هند ته په تاریخي لحاظ د مخالفت پلمه په لاس ورکوي، ځکه لا هم هغه لوبغاړي د افغانستان په سیاست کې فعال دي او دې سولې ته د شک په سترګه ګوري.

د امریکا او طالبانو تر منځ د خبرو په بهیر کې ویل کېدل، چې هند ته د افغان سولې په اړه د امریکا لخوا ډېر اطمینان ورکول شوی و. د دغو خبرو په بهیر کې د هند ځینو چارواکو افغانستان ته سفرونه وکړل او د افغان سیاسونو د اندېښنو رفع کولو هڅې یې وکړې. هند ښایي په داسې حال کې د افغان سولې په اړه محتاطانه خوشبین وي، چې دوه رقیب هېوادونه پاکستان او چین د افغانستان په مسائلو کې علاقمندي لري او امریکا بیا د دوی تر څنګ ولاړه ده.

اوس پوښتنه دا ده چې امریکا څه ډول کولای شي د سولې په بهیر کې د پاکستان د رول په اړه هندوستان ته ډاډ ورکړي؛ ځکه هندوستان باور لري چې پاکستان له طالبانو نه د ستراتیژیکي وسلې په توګه ګټه اخلي. تېره جمعه ورځ د اسلامي حزب امیر ګلبدین حکمتیار تور ولګاوه، چې افغان حکومت غواړي د هند په مرسته په افغانستان کې ملېشې جوړې کړي او دغه راز هند غواړي، چې د پاکستان پخاطر له سولې سره مخالفت وکړي.

پورته ضد و نقیض برداشتونه او تحلیلونه موجود دي او افغانان تشویش لري، چې په دغې پېچلې لاره به څه ډول د سولې منزل مقصود ته ورسیږي.

**۵-سعودي عربستان**

تر ټولو مهمه پوښتنه دا ده، چې د امریکا متحده ایالات به څه ډول وکولای شي د افغانستان په سوله کې د عربستان او ایران ګټې تأمین کړي او یا به دوی ته قناعت ورکړي، چې دغه سوله د دوی په ګټه ده.

سعودي عربستان هېڅ نه غواړي چې ایران دې د افغانستان سولې په بهیر کې حضور ولري، په داسې حال کې چې ایران هم هڅه کوي له خپل نفوذ نه په استفادې سره په افغانستان کې د سولې په بهیر کې د عربستان د برجسته رول مانع شي.

باور دا دی چې امریکا دغو حساسیتونو ته په کتو، د قطر هېواد د افغان سولې د مذاکراتو لپاره ټاکلی دی او یاد هېوادونه یې څنډې ته کړي دي.

سعودي عربستان په داسې حال کې د افغان سولې له بهیر نه لرې پاتې کیږي، چې نوموړی هېواد د طالبانو اسلامي تحریک په رامنځ ته کېدو او په افغانستان کې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال بې دریغه مرستې وکړې.

اوس د سولې په پروسه کې د یاد هېواد کمرنګه ګډون او د سیال هېواد لخوا یې د دې پروسې پر مخ وړل، نوموړی هېواد ناراضه کړی دی.

ښایي دا هم د سعودي د ناراضۍ سبب ګرځېدلی وي، چې پاکستان ولې طالبان دېته واداره نه کړل، چې طالبان د قطر پر ځای په سعودي کې دفتر پرانیزي او هلته خبرې اترې پر مخ بوځي.

**۶-روسیه**

روسیې په بار بار ویلي چې هېواد یې د افغانانو په مشرۍ د سولې له بهیر څخه ملاتړ کوي. دغه هېواد له امریکا سره د رقابت او سیاسي ستونزو په خاطر هم غواړي چې د افغانستان په سولې بهیر کې خپل رول ولري.

د روسیې لپاره هغه قرارداد چې له مخې به یې ټول امریکایي ځواکونه له افغانستانه وځي، لوی د خوښۍ خبر وي، ځکه دا ورته له ماتې بله مانا نه لري، هغه څه چې په نوییمه لسیزه کې دوی ورسره مخامخ شوي وو.

روسیه په سیمه کې د پاکستان په ملګرۍ څه نا څه ډاډه ده. څلور کاله وړاندې په قفقاز کې د دواړو هېوادونو د ځواکونو ګډ نظامي تمرینونه، دا ښیي چې روسیه پر پاکستان باور لري او ښایي د افغان سولې د موافقتنامې له بشپړ عملي کېدو وروسته، خپل هدف ته ځان رسېدلی وبولي.

دغه راز پاکستان اطمینان لري، چې روسیه په نړۍ کې د قدرت د توازن په لټه کې ده. د دوی په وینا، په افغان سوله کې د روسیې رول ډېر مهم دی. پاکستان د آسیا په جنوب کې د پروت او د روسیې د دوست هېواد په حیث غواړي، په افغانستان کې د ثبات او سولې په برخه کې مرسته وکړي.

که روسیه ډاډه شي چې د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې لاسلیک شوې موافقتنامه بشپړه عملي کیږي، نو ایران به قانع کړي چې د افغان سولې ملاتړ وکړي.

د افغانستان په سولې بهیر کې پر یادو هېوادونو سربېره، د ترکیې، عربي متحده اماراتو او له آسیا بهر، د اروپایي ټولنې رول او ملاتړ هم له پامه نشي غورځېدلای.

همدا راز بین المللي قوانین، د ګاونډیتوب نزاکتونه او د سیمې هېوادونو منافع دا ایجابوي، چې د افغانستان د راتلونکې په اړه هر ډول مذاکره او سیاسي خبرې اترې باید د افغانستان دولت په حضور او له یادو هېوادونو پټې نه وي.

افغانان اوسمهال د هماغه وېرې پر برید ولاړ دي، چې هسې نه افغانستان شل کاله وړاندې حالت ته بیا ور وګرځي، نیم ځواکې ولسواکې او لاسته راوړنې له خاورو سره خاورې شي او یو ځل بیا د نیابتي جګړو په ډګر بدل شي.

څه چې اوس ډېر اړین او ضروري لیدل کیږي، هغه د افغانستان د سیاسیونو او تصمیم نیوونکو د پیاوړي اجماع رامنځ ته کېدل دي، چې له بحرانه د افغانستان د وتلو واحد غوره بدرګه کېږي.



# افغانستان کې د سیلابونو مخنیوی څنګه کېدای شي؟

**لیکنه: ډېوه؛**
د چین نړیوالې راډیو پښتو څانګې خبریاله

دا چې په دې وروستیو کې د افغانستان په بېلا بېلو ولایتونو کې بوړنوونکي سیلابونه راغلل او ډېر ځاني او مالي زیانونه یې واړول، چې په اړه یې د هر با احساسه انسان زړه درد کوي.

ما هم په رسنیو کې د یادو سیلابونو له امله د اوښتو زیانونو انځورونه او ویډیوګانې ولیدي او ډېر زړه مې بد شو.

اوس پوښتنه دا ده چې تر کومه به داسې طبیعي پېښې په افغانستان کې رامنځ ته کېږي؟ آیا د داسې پېښو د مخنیوي امکان شته؟

د دې پوښتنو په ځواب کې ما ته په بېجینګ کې د «مي یون » په نوم اوبو بند را یاد شو او دا فکر راسره پیدا شو، چې که افغان دولت او ولس په خپلو سیمو کې د ورته بندونو په جوړولو لاس پورې کړي، نو دا به له یوې خوا د سیلابونو د راوتلو مخه ونیسي او خطر به یې کم کړي او له بلې خوا به خلک له پاکو اوبو څخه برخمن شي، د کرنیزو ځمکو لپاره به اوبه پرېمانه شي او آن کولای شي چې د برېښنا په تولید کې هم له یادو اوبو څخه کار واخلي.

لازمه بولم چې لومړی د مي یون بند په اړه معلومات درکړم او کولای شی چې یاد بند بېلګه وګرځوئ او په خپلو سیمو کې د دې بند له تجربو څخه کار واخلئ.

د « مي یون بند»

دا بند په ۱۹۶۰ میلادي کال کې د بېجینګ او هه بې ولایتونو د خلکو له خوا د سیلاب د مخنیوي په موخه جوړ شوی، خو د سیلابونو پر مخنیوي سربېره یې د څښاک د پاکو اوبو او دغه راز کرنیزو ځمکو د خړوبولو پر یوې لویې سرچینې بدل شوی او اوس د چین دولت دې بند ته ډېره پاملرنه کوي.

ولې د چین دولت رییس شي جین پینګ د «مي یون» بند ته ډېره پاملرنه کوي؟

د چین په پلازمېنه بیجینګ کې د «مي یون » په نوم د اوبو زیرمتون په دغه ښار کې یو ډېر مشهور ځای دی، ځکه چې دغه زیرمتون په یاد ښار کې د څښاک اوبو تر ټولو لویه تامینوونکې سرچینه ده. د «مي یون» اوبو زیرمې له جوړېدو وروسته په ۳۰ کلونو کې د سیلابونو د مخنیوي، د کرنیزو ځمکو خړوبولو، په دغه ښار کې د څښاک اوبو برابرولو، د برېښنا تولید، د کبانو روزنې او سیلانۍ په ګډون په ډېرو برخو کې ګټوره ثابته شوې.

د چین د دولت رییس شي جین پینګ د اګست په ۳۰مه د بېجینګ د «مي یون» اوبو زیرمتون د جوړېدو د ۶۰مې کلیزې په درشل کې د دغه زیرمتون اباد‌وونکو او ساتونکو کلیوالو ته ځوابي پیغام ولیږه، چې پکې یې دغو کلیوالو ته سلامونه او نېکې هیلې وړاندې کړې او د هغوی د نېکمرغۍ هیله یې ښودلې وه. ولی شي جین پینګ د «مي یون» اوبو زیرمتون ته تل ډېره پاملرنه کوي؟ ځکه چې د بېجینګ په شاوخوا کې څه باندې سل زره کیلومتره مربع په پراخوالي غرنۍ سیمه د دغه ښار ډېر مهم طبیعي دیوال او د اوبو د سرچینو ساتونکې سیمه ده او ډېر ارزښت لري. دغه زیرمتون د سیلابونو مخنیوي په هدف جوړ شوی او اوس دغه زیرمتون په بیجینګ کې د څښاک اوبو برابرولو او د اوبو سرچینې د یوې ستراتیژیکې اډې په توګه ګڼل کېږي، چې ستر ارزښت لري.

په ۱۹۵۸ میلادي کال کې د «چاو بای» سیند په لاندینۍ برخه کې ډېر پراخ پټې او د دغه ساحې اوسیدونکي نږدې هر کال د سیلابونو له خطرونو سره مخ وو. له ۱۹۴۹ کال څخه تر ۱۹۵۹ میلادي کال پورې په لسو کلونو کې اته ځله لوی سیلابونه رامنځ ته شوي چې له امله یې ډېرې پراخې کرنیزې ځمکې له حاصلاتو لوېدلې او خرابې شوې دي.

خو په هغه وخت کې تخنیکونه دومره پرمختللي نه وو او ماشینونه هم ساده وو. په دې وخت کې پوهانو له څو کلن ډېزاین وروسته د دې پروژې په جوړولو پیل وکړ چې د بیجینګ او تیان جین ښارونو او د هه بې ولایت څه د پاسه دوه لکه کارګرانو د دغې پروژې په ابادۍ کې ګډون وکړ. د سیلابونو او زلزلو د مخنیوي لپاره پوهانو پرېکړه وکړه، چې د ډېرو ټینګو ډبرو او دیوالو په وسیله د اوبو بند جوړ کړي. نو د دغه بند له جوړېدو وروسته په یو کال کې د سیلابونو مخنیوی وشو او په دوو کلونو کې یې دغه زیرمتون بشپړ کړ. له ۱۹۶۰ کال څخه تر ۱۹۹۰ کال پورې په دغه ځای کې یوولس ځل لوی سیلابونه رامنځ ته شوي، خو د یاد سیند په لاندینۍ برخه کې هیڅ طبیعي زیان نه دی رامنځ شوی او هغه پراخې کرنیزې ځمکې چې پخوا د سیلابونو له امله خرابې شوې وې، بېرته جوړې شوې دي.

له ۱۹۶۰ میلادي کال وروسته دغه بند په عمده توګه د سیلابونو مخنیوي، پټیو ته د اوبو ورکولو، ښاریانو ته د اوبو برابرولو او د برېښنا تولید په چارو کې رول لوبولی دی. له ۱۹۸۵ میلادي کال وروسته دغه زیرمتون په عمده توګه بیجینګ ته د څښاک اوبه برابر کړې او تر اوسه د یاد ښار د څښاک اوبو برابرولو سرچینه ده.

د افغانستان خلکو په خپلو سیمو کې د سیلابونو د مخنیوي په موخه اوبو بندونو جوړولو په برخه کې د چین له تجربو څخه ګټه پورته کولای شي او د چین دولت دا پالیسي ده چې دوستو هېوادونو په ځانګړې توګه ګاونډیانو سره به خپلې هر ډول تجربې شریکې کړي او زه پوره باور لرم چې که افغان دولتي مشران د چین له حکومت څخه په دې برخه کې د مرستې او تجربو شریکولو غوښتنه وکړي؛ نو چین به هرو مرو له خپل توان سره سمه مرسته وکړي.

# سولې ته په لوی لاس د خنډونو جوړول؛

## د ملي مصالحې عالي شورا د تشکیل پر سر د ارګ او سپېدار ترمنځ ناندرۍ راولاړې شوې



په لوی لاس د سولې په لار کې د خنډونو جوړولو په دوام، تازه د ولسمشر غني او ملي مصالحې د عالي شورا مشر ډاکټر عبدالله عبدالله ترمنځ د دغې شورا پر غړو او تشکیلاتو ناندرۍ راولاړې شوې دي. څو ورځې وړاندې ولسمشر غني یو فرمان صادر کړ چې له ځان سره یو اوږد نوملړ هم لري او په هغه کې د ملي مصالحې عالي شورا د غړو نومونه لیکل شوي دي. سره له دې چې ګڼو سیاسیونو له دې نوملړ سره مخالفت کړی دی، خو ډاکټر عبدالله یې بیا له سره غیر اصولي اقدام بولي. بلخوا شنونکي په دې باور دي چې دغه ډول اقدامات د سولې پروسه نوره هم ځنډولی شي.

افغانان د تېر دوه سري حکومت ترخه تجربه له ځان سره لري اوس تازه د ملي مصالحې عالي شورا د مشر او ولسمشر غني ترمنځ نوې ناندرۍ رامنځ ته شوې دي. ولسمشر د یوه فرمان له لارې د ده په وینا، تر سلا مشورو وروسته د ملي مصالحې عالي شورا غړي تعین کړي دي، خو ډاکټر عبدالله عبدالله یې پر دغه فرمان غبرګون ښودلی دی.

ولسمشر په دغه فرمان کې ویلي چې د سولې د چارو د ژر پر مخ بېولو، د خنډونو لرې کولو او بین الافغاني خبرو د ژر پیل لپاره یې د دغې شورا د غړو نوملړ اعلان کړی دی، چې مشري به یې ډاکټر عبدالله عبدالله کوي. د ده په خبره، نوملړ تر اوږدو سلا مشورو وروسته جوړ شوی دی.

بلخوا د ملي مصالحې عالي شورا مشر داکټر عبدالله عبدالله بیا وایي چې د دغې شورا د غړو او تشکیل جوړول د یادې شورا د مشر کار دی او د ولسمشر فرمان ته اړتیا نه لري. د ډاکټر عبدالله عبدالله په خبره، د ملي مصالحې عالي شورا په دې اړه کار پیل کړی او ژر به یې نهایي کړي. د نوموړي له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې اعلامیه کې راغلي چې د دواړو لورو ترمنځ د سیاسي هوکړې له رامنځ ته کېدو سره سم د ملي مصالحې عالي شورا رامنځ ته شوې ده او غړي به یې هم د دې شورا مشر ډاکټر عبدالله عبدالله له ټولو اړخونو سره تر مشورې وروسته انتخابوي. د ده په خبره: ((د ۱۳۹۹ کال د غویي ۲۸مې د سیاسي هوکړه لیک د (ب) بند د صراحت پر اساس، د دې شورا د رسمیت او رامنځته کېدو بحث د ملي مصالحې عالي شورا له ولسمشر، سیاسي طرفونو او رهبرانو، د ملي شورا د دواړو مجلسونو له ریسانو، مدني ټولنې او د هېواد له نخبه ګانو سره په مشوره، تشکیلېږي)).

ډاکټر عبدالله عبدالله وایي چې د همدې توافق د یادې مادې په اساس د یادې شورا تشکیل د ولسمشر فرمان ته اړتیا نه لري. دی وایي چې د شورا د غړو د انتخاب لپاره په ماده کې له یادو شوو بنسټونو سره مشورې روانې دي او داسې یو نوملړ به جوړېږي چې ملي وي او ټول ولس ته د منلو وړ وي.

د ولسمشر له لوري د یاد لېست له اعلان سره سم ځینو سیاسي ډلو له دغه شورا سره پرېکون اعلان کړ او دا لېست یې فرمایشي او د حکومت په خوښه جوړ شوی وباله. پخوانی ولسمشر حامد کرزی لومړنی هغه کس و چې پر دې لېست یې غبرګون ښوده او په خبره یې، په هېڅ حکومتي تشکیل کې کار نه کوي، خو د سولې لپاره هڅې یې لومړیتوب دی.

د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ حزب اسلامي هم وایي چې دغه لېست له سیاسي اړخونو او مدني ټولنو سره له مشورو پرته جوړ شوی او تر ډېره د حکومت فرمایشي کسان پکې دي. د دغه حزب مطبوعاتي برخې رسنیو ته ویلي چې دوی له لېست سره موافق نه دي، ځکه د سولې راتګ یوې بې طرفه شورا ته اړتیا لري. د جمعیت اسلامي مشر صلاح الدین رباني هم پر خپل وار له دې شورا سره پرېکون اعلان کړی او هغه یې یو طرفه لېست بللی.

د دې اندېښنو ترڅنګ دا وېره شته چې د ډاکټر عبدالله عبدالله او ولسمشر غني ترمنځ د ملي مصالحې عالي شورا پر سر نانډرۍ به یو ځل بیا د سولې هڅې له خنډ او ځنډ سره مخ کړي او دا نانډرۍ به د جګړې د دوام سبب شي.

# د روغتیا نړیوال سازمان: د کرونا وبا له کبله د ۹۰ سلنه هېوادونو روغتیایي سکټورونه زیانمن شوي



د روغتیا نړیوال سازمان ویلي، د کرونا وبا له کبله د ۹۰ سلنه هېوادونو روغتیایي خدمتونه زیانمن او ټکني شوي دي.

یاد سازمان دغه راز په بېلابېلو هېوادونو کې د کرونا اغېزې اندېښمنوونکې بولي. د دغه سازمان په وینا، دې وبا پر نورو برخو سربېره، روغتیایي خدمتونو ته هم لوی زیانونه اړولي دي. د روغتیا نړیوال سازمان په تازه راپور کې ویلي چې په اکثرو هېوادونو کې د تېرو ۲۰ کلونو روغتیایي لاسته راوړنې په لنډ وخت کې د لەمنځه تلو له ګواښ سره مخ دي.

د یادونې ده چې د دغه سازمان دا سروې له مې تر جولای میاشتې پورې په څه باندې ۱۰۰ هېوادونو کې ترسره شوې ده.

په سروې کې راغلي، چې دغې وبا ۷۰ سلنه د واکسین پروګرامونه، ۶۸ سلنه د کورنۍ د تنظیم پروګرامونه او ۵۵ سلنه د سرطان پر وړاندې د تشخیص او درملنې چارې زیانمنې کړې دي.

افغانستان، سوریه او یمن هغه هېوادونه بلل شوي چې روغتیایي خدمتونه پکې تر ټولو زیات له ګواښ سره مخ شوي دي. افریقا او د جنوب ختیځې اسیا هېوادونه بیاپه دویمه درجه کې له ګواښ سره مخ بلل شوي دي.

په دې سروې کې د شمالي امریکا او جنوبي امریکا هېوادونه نه دي شامل. د روغتیا نړیوال سازمان وایي، کرونا له تېرې ډسمبر میاشتې راهیسې چې پیدا شوې، تر اوسه ۸۵۰ زرو ډېر کسان مړه کړي دي. په ورته وخت کې ډېری متخصصین پر دې باور دي چې د روغتیایي خدمتونو د کمزورتیا له امله د ځینو نورو ناروغیو له کبله هم مړینه زیاته شوې ده.

په سروې کې اندېښنه ښودل شوې چې د روغتیایي خدمتونو کموالی به کرونا ویروس نور هم ډېر او په اوږدمهال کې به د نورو ناروغیو له کبله مړینه هم زیاته کړي.

دا په داسې حال کې ده چې کرونا ویروس لاهم په نړۍ کې په چټکۍ سره د ودې په حال کې دی. د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې له ۲۵ نیمو میلیونو واوښتې. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله ۸۵۵ زره او ۶۵۲ تنه مړه شوي او نږدې ۱۸ میلیونه بېرته تړې رغېدلي دي.

د دغو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه لاهم د دغه ویروس د ډېرو قربانیانو او مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې له شپږو میلیونو اوښتې، دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله ۱۸۷ زره او ۷۹۳ امریکایان مړه شوي دي.

## د کتاب خبرې

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري فرصتونه او ستونزې

◎ لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

## دویم فصل
## د سیمه‌ییزې همکارۍ پېژنده




سیمه‌ییز کېدل یا په یوه سیمه کې د ټولنیز یووالي وده چې د یو سیمه‌ییز هویت او پېژندگلوۍ د رامنځته کېدو سبب کېږي په دې وروستیو کې یې دډېرو پوهانو او علماوو پام ځانته را اړولی دی له همدې امله د نړیوالو اړیکو ځینو پوهانو او څېړونکو هڅې کړي، چې سیمه‌ییزتوب د نظریاتو او تیوریو په چوکاټ کې روښانه کړي . سیمه‌ییزتوب د ملیتوب او نړیوالتوب په منځ کې قرار لري، له همدې امله څېړونکو د سیمه‌ییزتوب او سیمه‌ییز کېدو په اړه ډېر نظریات وړاندې کړي  او هره نظریه د سیمه‌ییزتوب پر عواملو، انگېزو، پراختیا او تطبیق کوونکي په اړه معلومات وړاندې کوي سیمه‌ییزتوب په دوو ډولونو ویشل شوی، زوړ سیمه‌ییزتوب او نوی سیمه‌ییزتوب، زوړ سیمه‌ییزتوب له سړې جگړې څخه ډېر اغېزمن و او ډېر  وختونه به د سترو قدرتونو له لوري تحمیل کېده،محدود و او هغه مهال سیمه‌ییزه همکاري یوازې په امنیتي او اقتصادي برخو پورې محدوده وه، د سیمه‌ییزې همکارۍ له اروپایي ډول څخه استفاده کېده او د دولت له لوري به تربیب او تنظیم کېده.نوی سیمه‌ییزتوب له سړې جگړې څخه له وروستیو حالاتو څخه اغېزمن دی، نړیوالتوب سره تړاو لري، پراخې سیاسي، اقتصادي، فرهنگي او امنیتي موخې په کې په پام کې نیول کېږي اوسمهال د سیمه‌ییزتوب له نړیوال ډول یا بڼې څخه استفاده کېږي او دولت، مدني ټولنه او سوداگر په کې مهم رول لري .

له ۱۹۸۰ مې لسیزې راهیسې په ټولې نړۍ کې  سیمه‌ییزتوب پراختیا پیدا کړه او داروپایي اتحادیې رامنځ ته کېدل یې یوه ښه بیلگه ده د نړۍ په نورو سیمو کې هم د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا په موخه سیمه‌ییز سازمانونه، جوړښتونه او بنسټونه رامنځ ته شول چې ځینې مهم سیمه‌ییز سازمانونه یې په لاندې ډول دي :

۱ـ د جنوب ختیځ اسیایي ملتونو اتحادیه Association of South East Asian nations ((ASEAN

۲ـ د ختیځو افریقایي دولتونو اقتصادي کمیسیون Economic Commission of west (African states (ECOWAS

۳ـ د شمالي امریکا د ازادې سوداگرۍ تړون North American free trade agreement ((NAFTA

۴ـ د جنوبي افریقا د پراختیا ټولنه Southern African development Community ((SADC

۵ـ د جنوبي اسیا د همکاریو سازمان South Asian association for regional (Cooperation (SAARC

په اروپا کې د سیمه‌ییزتوب او یووالي له پیل کېدو وروسته د سیمه‌ییزتوب په اړه مختلفو نظریاتو کې بدلونونه رامنځ ته شوي  او دا بدلونونه په دوه ډوله دي، یو پخپله د سیمه‌ییزتوب د نظریاتو بدلونونه دي او دویم د سیمه‌ییزتوب  په نظریاتو کې د رامنځ ته شویو بدلونونو عوامل دي.

**ب ـ د سیمه‌ییزتوب نظریاتو کې رامنځ ته شوي بدلونونه**

د وخت او شرایطو له بدلېدو سره د سیمه‌ییزې همکارۍ په اړه په نظریو او تیوریو کې هم بدلونونه رامنځ ته شوي  اوسمهال د سیمه‌ییزې همکارۍ په اړه بېلابېلې نظریې شته  او دغه  نظریات له یو بل سره توپیرونه لري د سیمه‌ییزتوب او سیمه‌ییزې همکارۍ په اړه په تیوریو کې ځینې  مهم بدلونونه په لنډ ډول څېړو:له اروپا لرې کېدل، جغرافیا په پام کې نه نیول،د نظریاتو ورکولو پراختیا او ځو برخې کېدل، ډیموکراتیک پلورالیزم، د نظریاتو یو ځای کېدل او مانا پالنه.

**۱-  له اروپا څخه لرې کېدل**

د سیمه‌ییزتوب پروسه لومړی له اروپا څخه پیل شوه او وروسته یې بیا د نړۍ نورو سیمو ته پراختیا پیدا کړه له همدې امله د سیمه‌ییزتوب نظریات د اروپا د بدلونونو او تجربو له مخې وړاندې شوي دي په نړیوال نظام او سیاست کې د بدلونونو له رامنځته کېدو وروسته له اروپا څخه بهر د نړۍ په نورو سیمو کې د سیمه‌ییزتوب نوي ډولونه چې د اروپا د سیمه‌ییزتوب له ډول سره  یې توپیر درلود رامنځ ته شول او دلیل یې دا و چې د سیمه‌ییزتوب په اړه اروپایي نظریاتو نه شول کولای د درېیمې نړۍ په هېوادونو کې د سیمه‌ییزتوب په اړه پوښتنو ته ځواب ووایي، ځکه چې په درېیمې نړۍ کې د سیمه‌ییزتوب اهدافو او انگېزنو په اروپا کې د سیمه‌ییزتوب له اهدافو او انگېزنو سره مشابهت نه درلود. له همدې امله د موجودو نظریاتو اصلاح کولو او د نویو نظریاتو وړاندې کولو ته چې له اروپا څخه بهر د سیمه‌ییزتوب اهدافو، تجربو او انگېزنو د روښانولو وړتیا ولري رامنځ ته کېدو ته اړتیا پیدا شوه.

دوام لري...

# د مطالعې فن

◄ اکسوس کتابپلورنځی




دا اصطلاح چې «دا اوښ د هر چا په دروازه کې چو دی» د واده، مرگ او نورو هغو پېښو لپاره کارول کېږي چې هر څوک په ژوند کې ورسره مخ کېږي.

پر دې سربېره که تاسو زده کوونکی یا محصل یاست، یکار ده چې مطالعه وکړئ، نوټ واخلئ او په ازموینه کې گډون وکړئ، نو دغه اصطلاح ستاسو په اړه هم سمه ده.

د ښوونځیو او پوهنتونونو د اجباري مطالعې په اړه سلگونه کتابونه لیکل شوي؛ خو له بده مرغه زیاتره دغه کتابونه د لیکوالو له شخصي تمایلاتو او باورونو سرچینه اخلي او لارښوونې یې په علمي اصولو او تگلارو نه دي ارزیابي شوې، نو امکان لري چې ستاسو د مطالعې اوسنۍ طریقه ستاسو له موقعیت سره مناسبه نه وي. په دې کتاب کې د مطالعې د اغېزمنتیا لپاره داسې سپارښتنې شوې چې په علمي اصولو ثابتې شوې دي. په کتاب کې وړاندې شوې طریقې ډېرې اغېزناکې او گټورې دي. د دغو سپارښتنو په عملي کولو سره مو د مطالعې، زده کړې او یاد ساتلو کیفیت لوړولای شئ. د مطالعې فن په دې نیت لیکل شوی چې د پوهنتونونو په بېلابېلو څانگو کې د مطالعې د مهارتونو د زده کړې په موخه تدریس شي. د دې تر څنگ نور مینه‌وال هم گټه ترې واخلي. د دې کتاب د سپارښتنو پلي کول هغو کسانو ته هم گټور دي چې د درسي موادو په توگه یې لولي او هغو کسانو ته هم گټه لري چې د ازادې مطالعې په نیت یې د لوستلو شوق لري.

د دې کتاب په لومړي څپرکي کې د مطالعې د طریقو پر ارزښت بحث کېږي او لوستونکي ته ښیي چې څنگه مطالعه وکړي څو تر نورو محصلانو مخکې شي. په دویم څپرکي کې د کلامي زده کړې لپاره د دریو پړاوونو نظریه وړاندې شوې، چې د نورو څپرکو د مطالعې لپاره د بنسټیز چوکاټ حیثیت لري. د دغې نظریې درې پړاوونه پاملرنه، خپلې ژبې ته اړول او نوو اطلاعاتو ته له پخوانیو هغو سره اړیکه ورکول دي.  په درېیم څپرکي کې له دغو دریو پړاوونو څخه په گټنې د مطالعې اغېزمنې لارې چارې وړاندې کېږي. څلورم څپرکی دې ته ځانگړی شوی چې د استاد له درسي توکو، کتابونو او له نورو رسنیو څخه څه ډول زیاته گټه اخیستلای شو. په پنځم څپرکي کې له حافظې څخه د گټې اخیستنې او د هغې د ظرفیت لوړولو په موخه  څو ساده او په عین حال کې گټورې لارې چارې وړاندې شوې دي. شپږم څپرکی له لوستونکي سره مرسته کوي چې د یادو څلورو پړاوونو له پروگرام څخه په گټه اخیستو ازموینې ته تیاری ونیسي او په بریالۍ توگه ازموینه ورکړي.

په اووم څپرکي کې لوستونکی د درسي مقالو د لیکلو او تشریحي ازموینو ورکولو چل زده کوي. په اتم څپرکي کې د علمي گټې اخیستنې لپاره د مخکینیو څپرکو د مطالبو لنډیز راغلی. په دې څپرکي کې هڅه شوې چې له لوستونکي سره داسې مرسته وشي چې هغه اړتیا ورته لري او ځان ته د مطالعې داسې پروگرام جوړ کړي چې د ده له ژوند او شرایطو سره سم وي.

د هر څپرکي په پیل کې د هغه موخې راغلې او ویل شوي چې لوستونکی باید د څپرکي تر پایه کوم مطالب زده کړي. پر دې سربېره، له لومړي تر اووم پورې د هر څپرکي په پیل کې د اصطلاحاتو نوملړ راغلی چې د څپرکو په زده کړه کې د دغو اصطلاحاتو ارزښت ښیي.

د کتاب په پای کې وییپانگه ده چې دغه ټول اصطلاحات له خپلو تعریفونو سره پکې راغلي.

د هر څپرکي په پیل کې د اصطلاحاتو تر نوملړ وروسته لنډه سریزه او د ځینو څپرکو په پای کې د مطالبو لنډیز هم راغلی.

مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قېمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | Brian Tracy | The Science of Money How to Increase Your Income and Become Wealthy | ۱۸۰؋ |
| ۲ | Robert M. Darke | (What I Mean When I Miss You  Love You& F*ck You (Poetry | ۱۵۰؋ |
| ۳ | Robert M. Darke | (What I Say To Myself When I Need To Calm The F*ck Down (Poetry | ۱۵۰؋ |
| ٤ | Robert M. Darke | (What I Feel I Don't Want To Feel (Poetry | ۱۵۰؋ |
| ٥ | Rober M. Darke | (What I Say I'm Not Saying A Damn Thing (Poetry | ۱۵۰؋ |
| ٦ | Dr Wayne Dyer | I Can See Clearly Now | ۲۷۰؋ |
| ۷ | David Eagleman | (The Brain (The Story of You | ۲۲۰؋ |
| ۸ | Yuval Noah Harrari | Homo Deus A Brief History of Tomorrow | ۲۸۰؋ |
| ۹ | Hector Garcia& Francesc Miralles | IKIGAI/Hector Garcia& Francesc Miralles | ۱۵۰؋ |
| ۱۰ | Yuva Noah Harari | ۲۱th Century Lessons for the ۲۱ | ۲۳۰؋ |
| ۱۱ | Vex King | Good Vibes  Good Life | ۲۷۰؋ |
| ۱۲ | Margaret Atwood | The Handmaid's Tale | ۲۵۰؋ |
| ۱۳ | Deepak Chopra | Super Brain | ۲۳۰؋ |
| ۱٤ | Marshall Goldsmith | What Got You Won't Get You There | ۱۷۰؋ |
| ۱٥ | Mary Buffett& David Clark | The Tao of Warren Buffett | ۱۸۰؋ |
| ۱٦ | Stephen R. Covey | ۸th Habit The | ۲۵۰؋ |
| ۱۷ | Jose Saramago | All the Names | ۱۸۰؋ |
| ۱۸ | Som Bathla | The Science of High Performance | ۱۷۰؋ |
| ۱۹ | Caroline Kepnes | Hidden Boddies A Nove | ۲۸۰؋ |
| ۲۰ | Colleen Hoover | Hopeless | ۲۸۰؋ |
| ۲۱ | Brian Tracy | (No Excuses!( The Power of Self- Discipline | ۲۰۰؋ |
| ۲۲ | Elizabeth Gilbert | (Big Magic (Creative Living Beyond Fear | ۳۵۰؋ |
| ۲۳ | John C. Maxwell | Sometimes You Win Sometimes You Lost Learn | ۲۰۰؋ |
| ۲٤ | Robert T. Kiyosaki | Rich Dad's Cashflow Quadrant | ۱۸۰؋ |
| ۲٥ | Robert T. Kiyosaki | Second Chance for Your Money  Your life& Our World | ۲۵۰؋ |
| ۲٦ | Sarah J. Mass | A Court of Wings and Ruin | ٤۰۰؋ |
| ۲۷ | Jeff Olson | The Slight Edge | ۳۰۰؋ |
| ۲۸ | William Body | Sweet Caress A Novel | ۲۰۰؋ |
| ۲۹ | Brian Tracy | The Science of Money How to Increase Your Income and Become Wealthy | ۱۸۰؋ |
| ۳۰ | روی ایم بیرکو ډی ار ولوین ای دي ولوین/میراحمد یاد | فردي او عمومي ارتباطات | ۳۵۰؋ |

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ      اړیکه: 0202504652 - 0798-98-9696

همیانی

# په کار کې د ارزښتمن کېدلو لپاره څلور سپارښتنې

ژباړه: عطامحمد میاخېل

ځینې کسان تل هڅه کوي چې په کارځای کې له خانه ډېره زیاته انرژي او فعالیت ښکاره کړي، د دې موخې لپاره په هر کار کې داوطلب کېږي یا حتی هڅه کوي چې په ټولو پروژو کې ګډون ولري، په دې حالت کې هغه څه چې تمه یې لري، نه یې شي تر لاسه کولای.

ښايي څو ځله په بېلابېلو ناستو کې ګډون او نظر وړاندې کړو یا له خپلو همکارانو سره مناسبه اړیکه ټینګه او ټول کارونه په وخت سره تر سره کړو، خو بیا هم وینو لکه څنګه چې باید په خپله دنده کې پرمختګ وکړو، نه مو دی کړی او مدیران راته پام نه کوي.

په دې وخت کې هرومرو زموږ په کار کې کومه تېروتنه شته، چې اجازه نه ورکوي پرمختګ وکړو. ښايي ځینې خنډونه مو له کنټرول څخه بهر وي، خو له څو ساده تګلارو څخه په ګټې اخیستنې سره کولای شو د دې ستونزو له رامنځ ته کېدلو څخه مخنیوی وکړو او په کارځای کې خپل ارزښت زیات کړو.

**دا څلور تګلارې عبارت دي له:**

**۱ - له هېچا سره کینه مه کوئ**

ښايي تاسو په خپل کارځای کې یو مسلکي او مؤدب کارمند وی، خو ښايي ځینې کسان مو خوش نه شي او هڅه وکړئ چې له هغوی سره هېڅ اړیکه ټینګه نه کړی.

کارپوهان وايي، د یوه همکار په اړه د منفي احساس لرل، مخکې تر دې چې مقابل لوري ته زیان ورسوي، خپله فرد ته زیان اړوي. کینه‌کښ اوسېدل کولای شي پر تاسو باندې ډېره زیاته منفي انرژي تحمیل کړي، په داسې حال کې چې کولای شی له هغې د مثبت کار د تر سره کولو لپاره ګټه واخلی.

که وکولای شی چې خپلې اړیکې کنټرول کړی، نو وبه کولای شی چې ستونزې حل کړی او دا زده کوی چې له هر څه څخه شخصي اخیستنه ونه کړی. دا مسئله ستاسو لپاره یوه ارزښتمنه مدیریتي وړتیا ګڼل کېږي



او کولای شي له تاسو سره په حساسو خبرو اترو کې مرسته وکړي.

**۲ - کم مسؤولیتونه پر غاړه واخلئ**

ځینې وخت د دې لپاره چې غواړو په کاري چاپېریال کې خپل ارزښت، خپل مدیر ته ثابت کړو، له کوم دلیل پرته ډېر زیات مسؤولیتونه پر غاړه اخلو. دا مسئله د دې سبب ګرځي چې ونه شو کولای ټولې دندې په ښه توګه تر سره کړو.

په دې وخت کې باید ووینئ چې له مسؤولیتونو څخه کوم یو یې ډېر زیات ارزښت لري او په تر سره کولو پسې یې لاړ شئ. ښايي اړ شی ځینې ډېرې زیاتې کنایې واورئ، خو بیا هم غوره ده چې یوازې هغه دندې پر غاړه واخلئ، چې په کافي وخت کې یې وکولای شی په سمه توګه یې تر سره کړی.

**۳ - یوازې کارمند مه اوسئ، بلکې د ټیم غړی هم و اوسئ**

ښايي خپلو شاوخوا پېښو ته کمه توجه ولرئ او په پای کې په هغه کارمند باندې بدل شی، چې یوازې د خپلو ناڅېزه دندو د تر سره کولو په لټه کې دی، په دې وخت کې باید ټیمي تفکر د کارمندي تفکر ځای ناستی کړئ.

کله وخت اړینه ده چې د شرکت د ګټو په فکر کې و اوسئ، فعالیت مو د ولې د غړي په توګه په سمه توګه تر سره کړئ او خپلو موخو ته د رسېدو په لاره کې له شرکت سره مرسته وکړئ.

**۴ - په کاري چاپېریال کې مدیریت مه هېروئ**

هر وخت چې د مدیریت کلمه اورو، نو په ذهن کې مو یو لوړ پوړی فرد رول جوړوي، چې د نوي کارمند فعالیت مدیریت کوي؛ خو باید په دې باندې پوه شی چې مدیریت د افرادو له مقام سره هېڅ تړاو نه لري او موږ هم کولای شو په وخت غوښتنو او منطقي خبرو سره، له خپل مدیر سره خپله اړیکه مدیریت کړو. د مدیر په تړاو د مدیریت یوه تګلاره دا ده، چې خپلې دنده ییزې او مسلکي موخې تعریف کړی او د دندو د تر سره کولو د څرنګوالي په اړه څو څو ځله له هغه سره خبرې وکړئ.


# برېتانیا: افغاني اړخونه د روغې جوړې له لارې د روان کړکېچ د پای ته رسولو لپاره تاریخي فرصت لري

برېتانیا وايي، چې افغان حکومت له طالبانو سره د روغې جوړې له لارې د روان کړکېچ د پای ته رسولو لپاره تاریخي فرصت لري.

په کابل کې د یاد هېواد له سفارت څخه په خپره شوې اعلامیه کې ویل شوي چې یاد فرصت ته د رسېدو لپاره باید ټاوتریخوالي او هدفي وژنې بندې شي.

اعلامیه زیاتوي: «افغانستان یو تاریخي فرصت لري چې تر څو له طالبانو سره د جوړ جاړي له لارې روانې شخړې ته د پای ټکی کېږدي، دې فرصت ته د رسېدو په موخه ټاوتریخوالي او هدفي وژنې هرو مرو باید پای ته ورسېږي او ټولې خواوې باید یې له کومه خنډه د بین الافغاني خبرو اترو له پیل سره د موافقې له لارې شخړو هوارولو او سولې ته د رسېدو لپاره خپله ژمنتیا وښیي.»

یاد سفارت د افغانستان د خلکو،



یاد سفارت دغه راز په کابل او یو شمېر نورو ولایتونو کې د ټاوتریخوالي او هدفي بریدونو زیاتېدو په اړه اندېښنه ښودلې او هغه یې غندلی دی.

مشرانو، امنیتي ځواکونو، مدني ټولنې مشرانو زورزیاتي ستایلي چې په وینا یې، سولې ته د رسېدو په موخه د جمهوریت د ارزښتونو د دفاع لپاره له ګواښونو سره مخ دي.

برېتانیا همدارز ویلي چې له ترهګرۍ سره د مبارزې او سولې ته د رسېدو لپاره به د افغانستان د خلکو ترڅنګ ولاړ وي.

یاد هېواد داسې مهال په افغانستان کې د ټاوتریخوالي د زیاتېدو په اړه اندېښنه ښودلې چې تېره ورځ په پکتیا کې د طالبانو موټربم برید درې سرتېري ووژل او پنځه نور یې ټپیان کړل.

# جیلاني: د وروستیو سیلابونو له کبله په ټول هېواد کې ۱۹۰ تنه مړه شوي او ۱۷۲ ټپیان شوي

طبیعي پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت وايي، د تېرې اونۍ سیلابونو له امله په یو شمېر ولایتونو کې ۱۹۰ تنه مړه شوي او ۱۷۲ نور ټپیان شوي دي.

پروان، میدان وردګ، لوګر، پنجشېر، کاپیسا، ننګرهار، پکتیا، نورستان، خوست، کونړ، لغمان، بامیان، غزنی او کابل هغه ولایتونه دي چې نسبت نورو سیمو ته زیات سیلابونه پکې راوتلي دي.

طبیعي پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزیر غلام بهاوالدین جیلاني په کابل کې خبریالانو ته ویلي چې د یادو سیلابونو له امله ۱۰۵۵ کورونه په بشپړه توګه او ۲۶۹۰ نور څه ناڅه تخریب شوي دي.

هغه زیاته کړې: «تر اوسه له ۴۰۰۰ سیلاب ځپلو کورنیو څخه د ۳۰۰۰ کورنیو سره مرسته شوې ده، پاتې نورو کورنو لپاره هم مرسته روانه ده.»

جیلاني دغه راز ویلي چې دا وروستي ارقام نه دي چې په وینا یې کېدای شي تغیر وکړي. دا په داسې حال کې ده چې



د تېرې اونۍ سیلابونو تر ټولو زیات زیان په پروان ولایت کې اړولی دی.

که څه هم چې په دغه ولایت کې د سیلابونو له راوتلو یوه اونۍ پوره کېږي، خو لا هم د سیلاب ځپلو د موندلو عملیات روان دي.

پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزیر ویلي چې لا هم په پروان ولایت کې له ۱۲ څخه تر ۱۵ تنو سیلاب ځپلو جسدونه لا نه دي پیدا شوي. هغه وویل چې عملیات روان دي.

په ورته وخت کې ملګرو ملتونو د حکومت د معلوماتو پر اساس ویلي چې په پروان کې د سیلابونو له امله ۱۰۶ تنه مړه شوي او ۱۰۶ نور ټپیان شوي دي. د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر د معلوماتو پر اساس، تر اوسه هم په پروان کې د ۲۶ سیلاب ځپلو جسدونه ورک دي. دا په داسې حال کې ده چې د تېرو ورځو د افغانستان د هوا پېژندنې اداري په یو شمېر ولایتونو کې د بارانونو او سیلابونو راوتلو اټکل وکړ.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶،۸۰ |
| € | ۹۰،۵۰ |
| Rp. | ۴۵۸ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۰،۶۰ |
| £ | ۱۰۰،۵۰ |

### بیړنی شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د وږي ۱۲مه | د ۲۰۲۰ د سپټمبر دویمه | ۵۸۹یمه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۶ | ۱۷ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۰۰ | لمر ختل ۰۵:۲٦ | ماسپښين ۱۱:٥٤ | مازيګر ۰۳:۳۲ | ماښام ۰۶:۲۲ | ماخوستن ۰۷:٤۹


## نړۍ



## د روغتیا نړیوال سازمان: د کرونا وبا له کبله د ۹۰ سلنه هېوادونو روغتیايي سکتورونه زیانمن شوي

۳

## سنای امریکا خواستار توضیحات مقام‌های این کشور دربارۀ افغانستان شده است



اعضای دیموکرات مجلس نماینده‌گان ایالات متحده امریکا، خواهان توضیحات وزیران خارجه و دفاع این کشور دربارۀ افغانستان استند.

این قانون گذاران دیموکرات درنامه‌های جداگانه‌یی به مایک پامپیو، وزیر خارجه و مارک ایسپر، وزیر دفاع هشدار داده‌اند هرگاه آنان دربارۀ سیاست واشنگتن دربارۀ افغانستان به مجلس نماینده‌گان توضیحات ندهند، این دو تن احضار خواهند شد.

دیموکرات‌ها در کمیتۀ نظارت و اصلاحات و نیز کمیتۀ فرعی امنیت ملی می‌گویند که وزارت خارجه و پنتاگون از بیش از یک سال به این سو، دعوت نامه‌های این کمیته‌ها را نادیده می‌گیرند و یا هم با تأخیر، سردرگمی و بهانه‌ها، پاسخ می‌دهند.

درنامه هشدار داده شده‌است که هرگاه وزیر خارجه و دفاع تا روز چهارشنبه(امروز) پاسخ ندهند که به روز نهم ماه سپتمبر درمجلس نماینده‌گان حضورمیابند، احضارنامه‌ها در برابر آنان، صادر خواهند شد. وزارت‌های خارجه و دفاع امریکا تاکنون دربارۀ این نامه، چیزی نگفته‌اند. امریکا و طالبان در بیست‌و نهم ماه فبروری سال روان میلادی توافقنامۀ صلح امضاء کردند که به بر بنیاد آن، امریکا نیروهایش را در افغانستان به ۸ هزار و ٦۰۰ تن، کاهش می‌دهد. در این توافقنامه همچنان آمده‌است که به زودی گفت‌وگوهای میان افغان، برگزار شود.

اخیراً دونالد ترمپ، رئیس‌جمهور امریکا اعلام کرد که تا پیش از برگزاری انتخابات این کشور در ماه نومبر، شمار سربازان امریکایی در افغانستان، به ۴ هزار تن کاهش خواهد یافت.

## خامنه‌یي: د اماراتو او اسراییل ترمنځ هوکړه خیانت دی او ډېر به دوام ونه کړي



د ایران لوی مذهبي مشر ایات الله علي خامنه يي له اسراییل سره د اړیکو د عادي کېدو لپاره د متحده عربي اماراتو تاریخي هوکړه خیانت بللې او ویلي يې دي چې هغه به ډېره دوام ونه کړي. د ایران د دولتي رسنیو د خبر له مخې، خامنه يي دغه څرګندونې په تهران کې کړي او ویلي يې دي چې د اسلامي نړۍ، عربي هېوادونو، د سیمې هېوادونو او فلسطینانو پر وړاندې خیانت شوی دی.

خامنه يي دغه څرګندونې داسې مهال کوي چې اسراییل او متحده عربي اماراتو ترمنځ له هوکړې وروسته متحده عربي اماراتو ته د تللي امریکا او اسراییل یوه ګډ جګپوړي پلاوي سفرپای ته ورساوه.

دغه پلاوی وړمه ورځ له اسراییل څخه په لومړنۍ الوتنه کې متحده عربي اماراتو ته تللی او د هغه هېواد له چارواکو سره د همکارۍ د پراختیا پر لارو چارو يې خبرې وکړې.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا په منځګړیتوب د هغې تاریخي هوکړې له مخې چې د اګسټ په ۱۳ مه اعلان شوه، د اسراییل او متحده عربي اماراتو ترمنځ ډیپلوماټیکې اړیکې ټینګې شوې.

د یادونې ده چې متحده عربي امارات د خلیج د سیمې لومړنی، خو د عربي نړۍ دریم هېواد دی چې له اسراییل سره اړیکې ټینګوي.

## راپورونه: په سوریه د اسراییل په هوايي بریدونو کې ۱۱ ایراني ملېشې وژل شوي

د سوري رسنیو د راپورونو له مخې، د سوریې په جنوبي سیمو کې د اسراییل په تازه هوايي بریدونو کې ۱۱ ایراني ملېشې وژل شوي دي.

د راپورونو له مخې، د اسراییل دا بریدونه د حزب الله پر ملاتړو وسله والو شوي دي. په ورته وخت کې د اسراییل پوځي چارواکو ویلي چې په دغو بریدونو کې د حزب الله د ملاتړو ۱۱ ایراني وسله والو وژل کېدو ترڅنګ یادې ډلې ته ګڼ مالي زیانونه هم اوښتي دي. بلخوا د سوریې د بشري حقونو لندن مېشتې ډلې هم یاد بریدونه تایید کړي او زیاته کړې یې ده چې په وژل شویو کسانو کې نهه تنه یې سوریايي او پاتې نور یې د نورو هېوادونو وګړي دي. ایران تر اوسه په دې اړه څه نه دي ویلي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې هم اسراییل په سوریه کې ایراني اهداف او د یاد هېواد ملاتړې ملېشې په نښه کړې چې د ایران تونده غبرګونونه یې راپارولي وو. اسراییل تور پورې کوي چې په سوریه کې مېشتې ایراني ملېشې پر دوی پر توغندیزو بریدونو کې لاس لري، خو ایران بیا دغه ادعاوې نه مني.


## ژوند

## له کوره کار؛ له وړتیاوو مو ګټه واخلئ



خپلې ټولې وړتیاوې مو په یوه الکترونیکي کتاب کې راټولې کړی او پر هغو کسانو چې غواړي زده یې کړي او مهارتونه یې لوړ شي، خرڅې کړئ. که مو هغه وړتیاوې چې په کتاب کې مو را ټولې کړې دي، ګټورې وي او د دې چل مو هم زده وي چې پېرودونکي څه ډول راجلب کړی، ډېره ګټه به مو کړې وي. تاسو که د هرې برخې مسلکي یاست، شته داسې کسان چې پیسې درکړي او یو څه درڅخه زده کړي. که مو وړتیاوې داسې څه وي چې په الکترونیکي کتاب کې یې د راټولولو امکان نه وي، انلاین دورې جوړې او شریکې یې کړئ. کله چې تاسو یوه الکترونیکي محتوا جوړوی، کولی شی بیا بیا یې وپلوری او ګټه تر لاسه کړی. دا داسې کار دی چې هېڅ ډول پوله نه لري او له مصرف پرته یې کولی شی. که په مستقیم ډول یې د خرڅولو وړتیا نه لری، شته داسې سایټونه چې د خرڅلاو په برخه کې یې در سره مرسته وکړي.

## ګوګل خپل نوی ځیرک موبایل معرفي کړ



ګوګل کمپنۍ دوې اوونۍ وړاندې د یوې غونډې له لارې خپل ارزان بیه ځیرک موبایل خرڅلاو ته وړاندې کړ. دغه ځیرک موبایل چې پکسل۴اې نومول شوی، د پیاوړې کامرې او ځانګړنو، خو ټیټې بیې له امله د کاروونکو له تود هرکلي سره مخ شو. اوس ګوګل کمپنۍ غواړي راتلونکې میاشت د پکسل۴اې ۵جي څخه ملاتړ کوونکې بڼې ترڅنګ د دغه لړۍ بل پیاوړی ځیرک موبایل، پکسل۵ هم معرفي کړي. د باوري سرچینو له لوري افشا شویو معلوماتو کې ادعا شوې، چې دغه ځیرک موبایلونه به د سپټمبر په ۳۰مه په رسمي توګه کاروونکو ته معرفي شي. خو د هر بل ځیرک موبایل په څېر د دغه ځیرک موبایل ډیزاین او ځانګړنې هم له وخت وړاندې افشا شوې دي. د انلکیس له لوري دغو خپرو شویو تصویرونو کې د پکسل۵ د ډیزاین ټولې ځانګړنې په ډاګه شوې او د دغو افشا شویو تصویرونو پر بنسټ پکسل۵ به د ډیزاین په برخه کې له پکسل۴اې سره هېڅ ځانګړې توپیر ونه لري.


د خپلو هیلو پوره کولو لپاره نغدو پیسو ته اړتیا لرئ !!!!!!!
د معاشاتو پور له په زړه پورو او آسانو شرایطو سره ترلاسه کړئ
• د پور آسانتیا په افغانیو او امریکایي ډالرو کې شتون لري
• لندمهاله پور د 12 میاشتو سره
• آسان سند جوړونه
• د دولتي، غیر دولتي او خصوصي سکتور کارکوونکي کولی شي دغه پور ته لاسرسی ولري
دلازیاتو معلوماتو لپاره ز مونږ نږدې څانګې یا هم په مرکزي دفتر کې د پورونو څانګې څخه لیدنه وکړئ او یاهم ز مونږ 24 ساعته شمېرې 1515 سره اړیکه ټینګه کړئ
عزیزی بانک
Azizi Bank
www.azizibank.af
1515